DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه

سال ششم شماره ۱۱۳
شماره مسلسل ۹۸۰
یکشنبه ۲۷ حمل ۱۳۸۵ هـ.ش
۱۸ ربیع الاول ۱۴۲۷ هـ ق
16 April, 2006

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

جنرال ظاهر عظیمی:

د کنړ په ګډو عملیاتو کې برياوې ترلاسه شوی دی

د دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهر عظیمی په خپله پرونۍ مطبوعاتي اعلامیه کې ویلی دي چې د کنړ په کنړ کې ددوو ائتلافي ځواکونو له خوا په ګډو عملیاتو کې چې دغره دزمري په نامه نومول شوی وو برياوې ترلاسه کړی دی. په دغه عملیاتو کې د ملي اردو ځمکنیو ځواکونو دملي اردو دوه څرخي الوتکو اوهوایی ځواکونو برخه اخیستې وه چې په زیاته اندازه سیمه یي تصفیه کړی ده او لاهم دوام لري.

بله خوا دخوست په نادر شاه کوټ کې دملي اردو ۲۰۳ تندر قول اردو ځواکونو یو مشکوک کس نیولی چې چاودیدونکي توکي ورسره وو. اعلامیه زیاتوی چې همدغو سرتیرو د وري د ۲۵ نیټه څلور مشکوک بهرنی اتباع هم نیولی دی. اعلامیه وراندې لیکی چې په کندهار کې دمیشتی ۲۰۵ نمبر اتل قول اردو ځواکونو دتولې او عبدالمالك کاریز په سیمه کې شپږ کیلو ګرامه چاودیدونکي توکي له دري کسانو سره ونیول.

کشته شدن سه طالب در ارزگان

بر بنیاد صفحه انترنیتی پژواک دیروز در یک درگیری میان گروه طالبان ونیروهای ائتلاف در جنوب ارزگان دو تن از طالبان کشته شده اند ودو تن دیگر دستگیر گردیدند، اما قاری محمد یوسف که خود را سخنگوی طالبان معرفي میکند با تائید این مطلب میگوید که سه تن از افراد آنان در این درگیری کشته شدند.و۶ تن از سربازان نیروهای ائتلاف نیز به هلاکت رسیده اند.

حملات انتحاری جان چند تن راگرفت

سه تن از نیرو های پولیس در جنوب کشور در اثر یک حمله انتحاری کشته شدند، بر اساس یک گزارش دیگر سرباز نیروهای ائتلاف همراه با یک پولیس افغان در یک حمله انتحاری دیگر در ولایت کندهار زخم برداشته اند وسه سرباز بریتانیایی نیز در یک حمله انتحاری در ولایت هلمند مجروح شدند. در صفحه انترنیتی نیوز نو آمده است که قاری محمد یوسف که خود را سخنگوی طالبان معرفی میکند به اسوشیتدپریش گفته است که حمله بالای کاروان نیروهای بریتانیایی در ولایت هلمند توسط شخصی بنام عبدالله صورت گرفته است. در این حمله انتحار کنند مواد منفجره را بریک موتر جاسازی کرده بود که آنرا در نزدیک کاروان نیروهای ائتلاف منفجر ساخت.
این چندمین حمله علیه نیروهای بین المللی کمک به امنیت وپولیس در کشور در هفته هاي اخیر است. ص۴

سرمقاله

ولې دهیواد په زړه کې امن خرابیږي؟

زمونږ په هیواد کې دنورو اړتیاوو د له منځه وړلو په سر کې دسراسري امن اوامنیت راوستل دومره ضروری دی لکه څومره چې هیوادوال خوراك او اوبو ته ضرورت لري.

خو له بده مرغه چې دځه دپاسه څلورو کلونو په موده کې سراسری بی امنیتی زمونږ دهیوادوالو مال او ژوند له خطر سره مخامخ کړی دی نه یوازې په ولایاتو کې بلکې دهیواد په زړه کې یې هم د بی امنیتی اندیښنې را پیدا کړی دی.

ورانی، غلاوې ،تښتونې هغه ستونزې دی چې په دولتی ادارو کې یې دفسادونو، بډو او بی قانونی سره په مستقیم تناسب کې لوړ ګراف را خپلوی که څه هم دموقتې اداري له وخت څخه تر اوسه پورې ډیر تورن او مجرم اشخاص هم نیول شوی خو دداسې اشخاصو نسبتی دوسیې د کلونو او میاشتو په اوږدو کې دپریکړې وروستی پراوونه نشی سرته رسولای او په خپله سزا باندې په علنی توګه نه دی رسیدلی. علت یې دا بللای شو چې قانونیت تر شا اچول شوی دی، واسطو او پیسو یې مخ ډپ کړی ده غله او وژونکی له سزاګانو او نیولو څخه نه ویریږي او په کومه ټولنه کې چې قانون خپل پدل له لاسه ورکړی په هغې کې به ډیر انسانان د لیوانو په څیر سره خوری.

که چیرې زمونږ محکمې مجرمینو ته دقانون په تطبیق سره دسزا په ورکولو کې صادقانه دندې سرته ونه رسوی او دقانون په تطبیق سره یې ژر په درنو سزاګانو محکوم نه کړی ویلای شو چې لاتر دې به سراسری امن له منځه ځی او دسزا ګانو ورکوونکی به هم دبی امنیتی له ستونزو څخه ونه ژغول شي. او په نتیجه کې به دغلو او وژونکو ارتباطات له مخالفینو سره یو واحد شکل اختیار کړی او له سراسری بی امنیتی څخه به دځان په ګټه کار واخلی چې همدا اوس یې په ولایاتو کې نښې نښانې رابښکاره شوی.

اقتل دهها تن از افراد طالبان در سنگسر!

اسدالله خالد، والی قندهار از کشته شدن ۴۱ تن از افراد طالبان و شش تن از نیروهای پولیس طی درگیری در شهر سنگسر در حدود چهل کیلومتری جنوب شهر قندهار خبر داده است.

به گفته وی، این درگیری طی عملیاتی صورت گرفته است که در آن، نیروهای پولیس با پشتیبانی هلیکوپترهای نیروهای ائتلاف تحت فرماندهی امریکا به مواضع نیروهای طالبان حمله کرده اند ص۴



د کپیسا په ولایت کې پوځی عملیات پیل شوی

دشکمنو مخالفینو پر ضد دپیل شوو پوځی عملیاتو په لړ کې چې د کاپیسا په ولایت کې روان دی دیوه جنګیالی دوژل کیدو ترڅنګ د دوو پولیسو او یوه جنګیالی شوی دی.

د ټپی کیدو خبر ورکړل شوی دی.

دکاپیسا والی عبدالستار مراد وایی چې په دغه عملیاتو کې لسو ډیر شکمن جنګیالی نیول شوی دی. ص۴

دستگیری یک تخریب کار

ملا محمد شفیق که به اتهام برنامه ریزی حملات درجنوب کشور از سوی موظفین امنیتی ولایت کندهار باز داشت شده اظهار داشت که در سه حمله جداگانه علیه دولت اشتراک کرده است، این فرد زمانی گرفتار شد که میخواست مواد انفجاری را بمنظور اجرای یک عمل خراب کارانه در محل جاسازی نماید.

د جایزې په شخصی پیسو ډکلنیك جوړول

د بشری حقوقو دکمیسیون ویاند نادر نادری هغه نقدی ۵۰۰۰۰ ډالری جایزه چې دبشری حقوقو په برخه کې دهغه دخدمتونو له امله ورته ورکړل شوی وه دلغمان په ولایت کې دیو کلنیك په جوړولو کې ولګوله.

دغه کلنیك کې چې د اړتیا وړتیا وسایلوباندې سمبال شوی دهیواد په بیارغاونه کې له شخصی پیسو څخه دلګښت په برخه کې یو ګټور اقدام بلل کیږی د افغان نشراتی مرکز او د ارادی ورځپاڼې ټول کارکوونکی ددغه نیك اقدام له امله له ښاغلی نادری څخه مننه کوی او پداسی خدمتونو کې دنوروهیوادوالو مرستې هیله من دی.

ولسوال باغران به قتل رسید

حاجی عبدالمجید ولسوال باغران ولایت هلمند صبح دیروز از سوی افراد مسلح ناشناس به قتل رسید. مسوولین گفته است فیر زمانی بالای ولسوال باغران در منطقه بالاکوت صورت گرفت که وی به سوی ولسوالی موسی قلعه در حرکت بود. طالبان مسوولیت این قتل را به دوش گرفتند. بهاوالدین قوماندان امنیه ولسوالی باغران گفت تاکنون در رابطه به قتل حاجی عبدالمجید کسي بازداشت نشده وتحقیقات جریان دارد

په خوست کې دري بهرنیان نیول شوی



دخوست ولایت امنیتی چارواکې وایی چې ددغه ولایت په بیلابیلو ولسوالیو کې دوران کاری په تور دري تنه بهرنی اویو افغان وګړی نیولی دی.

دغه کسان په داسې حال کې نیول شوی دی چې په سیمه کې ددولتی ځواکونو په وړاندې بریدونه ډیر شوی دی.

دغه دري کسان نظامی چارواکو دخوست په ځاځیو میدان ولسوالی کې نیولی دی. ۴مخ

د نوي کابينې په اړوند د هيوادوالو نظريې

ملی شورا ته د ولسمشر پیشنهادی کابینی په اړوند مو دنظر ورکولو په لړی کی دا ځل دولسی شورا له غړی محترم داکتر سید هاشم فولاد سره مرکه کړی ده چی دلوستونکو پامنرنه ورته را اړوو.

محترم سید هاشم فولاد!

- ولسمشر حامد کرزی چی ملی شورا ته دخپلی پیشنهاد شوی کابینی لست وړاندی کړی تاسو په دغو پیشنهاد شوو وزیرانو کی څومره مسلکی توب وړتیا او کاری خواوی لیدلای شی؟

دغه لست ولسی جرګی ته رسیدلی دی هره ورځ وزیران په خپل وار راځی خپل راتلونکی پروګرامونه ښکاروی دوکیلانو پوښتنو ته ځوابونه وایی ۲۵ وزارتونه دی د اړوندو وزیرانو نومونه په کی دی پدی کی ځینی خلك دی چی مونږ یی پوره نه پیژنو او ځینی یی پیژنو تیرو کابینو کی هغوی پاتی وو دا کابینه کاملاً په مسلکی لحاظ باندی جوړه نه ده پدی کی په مسلك او مصلحت دواړه په نظر کی نیول شوی اوسی افغانستان داوړدو کلونو راپدی خوا دجګړو په اورونو کی سوځی دبن دقرار داد په اساس باندی افغانستان کی سوله راغلی ده،خو سوله ټینګه شوی نه ده سوله ټینګول پخپله دملتونو وظیفه ده دا دبهرنیو وظیفه نه ده نو ویلای شو چی پدی کابینه کی مسلك او مصلحت دواړه په نظر کی نیول شوی دی دا په وکیلانو پوری اړه لری چی دوی پدغه لست کی څومره د افغانستان حالات په نظر کی نیسی څومره کسانو ته رایه ورکوی دا دوکیلانو حق دی وزیران راځی کوم څوك چی په تیره کابینه کی یی وزارت کړی وی هغه دتیرکار راپور په اجمالی توګه او دراتلونکی کار پلان او ستراتیژی بیانوی وکیلان تری پوښتنی کوی او هغه وزیر سوالونو ته تر یوه حده پوری جواب وایی دوخت دکموالی په اساس ممکن ټولو سوالونو ته ځواب ونه وایی خو په مجموعی مهمو سوالونو ته ځواب ورکوی کله چی دوی خلاصیږی په اخره ورځ به فردی رایه ګیری شروع کیږی.دلته مخکی دوه نظریی موجودی وی یو په تولنیز شکل باندی د دوی تائید اورد او بل په انفرادی توګه، نو په انفرادی توګه باندی نظر ومنل شو په دموکراسی کی یو عمده اصل دادی چی باید اقلیت له اکثریت نه پیروی وکړی هغو چی په انفرادی رایه باندی ټینګار کاوه د هغوی رایی زیاتی شوی. کله چی ۲۵ واړه وزیران خلاص شی بیا به وکیلان په دوی باندی فکر کوی خپله رایه وزیران خپل ملت او خپل وران هیواد به په نظر کی نیسی ترڅو ددغه نظام د جوړیدو لپاره موثر تمام شی.

- که چیری رایی په انفرادی توګه یو یو وزیر ته ورکړی نو دا به ډیر وخت ونه نیسی؟

نه ، قرار داسی وچی د ډله ییز شکل نظر ورکوونکی په اقلیت کی راغلل د انفرادی رایی طرفداران زیات شول بیا پدغه باندی خبری وی چی دهر وزیر دخبرو په پای کی به چی سوالونه خلاصیږی راي ګیری به شروع کیږی بیا پدی باره کی رایه ګیری وشوه چی بیا پدی کی ۱۱۱ رایی داسی شوی چی دوی ویل چی کله ټول وزیران له سوالونو څخه خلاص شی بیا به رایی ګیری وشی ۹۱ رایی داسی وی چی هغوی ویل چی هره ورځ په انفرادی شکل په وزیرانو باندی دسوالونو په پای کی رایه ګیری وشي نو بیا دهغه نظر پلویان زیات شول چی کومو دټولو وزیرانو دسوالونو په پای له وروستی ورځی وروسته درایو دورکولو پلوی کوله زمونږ په داخلی طرزالعمل کی داسی هم ده چی د شپی تر ۱۲ بجو پوری هم دضرورت په وخت کی رایی ورکولی شی نو کیدای شی چی په یوه ورځ کی خلاص شی.

- غواړم پوه شم چی ستاسو دغه وروستی انفرادی رایه ورکول به په څه ډول وي؟

په اخر کی به د ټولو لپاره راي ګیری کیږي دهریو لپاره به بیله بیله نه شمارل کیږي خو رایه به فرد فرد ته ورکول کیږي بیا به دا په صندقونو کی اچول کیږي خپله دپارلمان ټول غړی به حاضر وی هم به ددغو خلکو ناظرین ولاړ اوسی که چیري دوی لازم ګڼل یعنی څه ممانعت په کی نشته مهمه خبره دا ده چی دپارلمان دټولو وکیلانو په مخکی به دا کارکیږي دنظارت مخه یی څوك نه نیسی. ضندقونه به ماتیږي دهر یو نوم به بیلا بیل ایښودل کیږي. د داخلی طرزالعمل فیصله داسی ده چي دحاضر مجلس ۱+۵۰ رایی باید هر وزیر پوره کړی.

- په ملی شورا کی دتنظیم او ګوندونو غړی وکیلان زیات دی او په کابینه کی هم داسی وزیران شته نو دغه تنظیمونو او ګوندونو پوري ترلی وکیلان به په ارتباطاتو پسی لاړ شی تنظیمی ګټی به په نظر کی وساتی او که هیوادني ګټی غواړم پدی هکله ستا په نظر پوه شم؟

- یو څه خو به دغه خبرمنو چي ځینی به خپلو ګوندونو او تنظیمونو ته ترجیع ورکوی خو باید دافغانستان دلوړو ګټی پربنا باید قضاوت وکړی هغه وکیلان چي هلته ناست دی باید دخپلیو ګوندی خواخوږی او همدردی په نظر کی نیولو سره دهغه مسلکی توان او طاقت هم په نظر کی ونیسی په نوره نړی کي هم پارلمانونه د ګوندونو په حساب راځی په افغانستان کی هم څلور ،پنځه قوی ګوندونه دی او پارلمان ته هم دځلورو،پنځو قوی ګوندونو نمایندګان راغلی دي . خو د دموکراسی دتحقق لپاره احزاب دفشار وسیله ده احزاب د دموکراسی د تحقق لپاره یوازي مظهر دی اما دتحقق لپاره دلته له ۸۰ څخه زیات ګوندونه په رسمیت پیژندل شوی دي خو اکثریتو یی ونشوای کړای چي پارلمان ته خپل نمایندګان راولیږي یو نظر دا هم دی که دا ګوندونه د دموکراسی د تحقق لپاره کارکوی بلي خواته په ملت کی تشدد، پراګندګی او بیلوالی را منځته کوي ښه به وي چی دوی په ارزښتونو کی نړدي وی سره یو ځای شی چی په افغانستان کی څلور پنځه قوی ګوندونه د راتلونکی لپاره جوړ شی له احزابو نه زمونږ غوښتنه دا ده چی دنړدی والي په اساس سره نړدي او یو شی او داسی وکیلان به اهلیت اوکفایت ته هم ترجیح ورکړی.

- په دغه لست کی ځینی داسی وزیران شته چی دهغوی کارونه په خپل وخت کی زیات محسوس نه دی دخلکو انتقادونه وربانډی شته که چیری زمونږ د ټولنی د وروسته پاتی ذهنیت په اساس دبري چانس ترلاسه کړی او په راتلونکی کی هم دتیر په شان دکارجوګه شی دملی شورا اجراات بیا دهغه په وړاندی څه ډول وی؟

- ولی نه، د دموکراسی فیصله دا ده چی اکثریت وړونکی دی که ځینی وخت کی اکثریت سلیقوي اوسی ډیر په منطق باندی استوار هم نه اوسی کله کله داسي هم راتلی شی بیا زمونږ غوندی په ګډه وډه ټولنه کی چی زمونږ خلك او زمونږ ګوندونه له دموکراسی سره نا اشنا دی که چیري کامیاب شی ډیری رایی واخلي دا پری حق دی خو ملی شورا کولای شی چی وزیر راوغواړی او پوښتنه تری وکړی.

د پارلمان وظایف دوه دی یو دقانون جوړول او بل په حکومت باندی نظارت کول چی قانون سم تطبیق کیږی او که نه. پارلمان او دمشرانو جرګه کولای شی یو وزیر داستیضاع او استیجواب لپاره راوغواړی او دکارونو پوښتنه یی وکړي.

- تاسو به دخلکو د استازو په توګه مدیریت ته زیاته برتری ورکوی او که تخصص، مسلکي والی ته؟

دواړو ته دمسلك ترڅنګ دیوه وزیر لپاره مدیریت هم ضرور دی هر وزیر ځان لپاره معینان لري معینان باید ډیر مسلکي خلك اوسی او خپله وزیر باید دمسلك ترڅنګ قوي مدیریت ولری که مدیریت ونه لری خپل کارونه پرمخ نشی وړای، دغه دواړه زمونږ ترجیحات دی خو زمونږ قوی نظم دهغه په مدیریت باندي دی چی اداری فساد له منځه یوسی کار اهل کار ته وسپاری او دهیواد دلوړو ګټو په پام کی نیولو سره دسولی د تینګیدو، انکشاف او بیا رغاونی سبب شی چی دغربت یونسبی مخنیوی وشی.

- اوس اوس بیا دخلکو اندیښنی زیاتی شوی دی چی ددغی اوسنی راتلونکی کابینی ځینی نامزاد وزیران دکارجوګه نه ښکاری تاسو خپلو خلکوته څه ډول ورکولای شي؟

- دا مشکل خو شته خو په پارلمان کي هم دخلکو نمایندګان ناست دی خلکو ورته رایه ورکړی ده دلته راغلي دي که دا یوه جوړه ټولنه وای امن وای انکشاف وای لاسوهنی کمی وای ډیره ښه وه چی پارلمان وزیرانوته ښکاره رایی ورکړی وای او خلکو خپل وکیلان لیدلی وای چی دغه دی زمونږ وکیلانو هغو ته رایه ورکړه چی اهلیت دکارلري زمونږ وکیلان هم پوهیږی ملت هم پوهیږی چی دلته داوړدی مودی جنګ روان و ګډودی وه او ده او اوس هم بهرنی مداخلی روانی دی نو دغه وخت کی مونږدنظام دجوړیدو په حالت کي یو زمونږ اوس باید ډاډه اوسی چی دهغوی وکیلان به هیڅوخت نامطلوبو اشخاصو ته رایه ورنه کړی چي هغوی دخپل دین او خلکو لپاره ګټور تمام نشی. افغانستان دبیا رغاونی په درشل کي دی دښمن نه غواړی چی په افغانستان کی سوله او ثبات راشی د دولت دری واړه قواوی باید د دولت سره ممد اوهمکار اوسی او یو دبل په اصلاح پسی وګرزی خصوصاً مهمه وظیفه چی په حکومت باندي نظارت او دقوانینو تسوید دی که حکومت تور ته تور وایی نوپارلمان باید ونه وایی چي ته ولی تور ته تور وایی. خو که حکومت تور ته تور وایی او پارلمان و وایی چي نه، دا سپین دی او پارلمان و وایی زه ستا هره خبره که سمه وی او که غلطه وی ردوم دا خبره زمونږ له نظره سمه نه ده که تور ته یی تور ویل مونږ یي باید وګرسره ومنو که تور ته یی سپین ویل بیا به ورته ووایو چې نه، دا سمه نه ده دی ته تور وایی. زمونږ هدف دا دي چې په حکومت کی کار اهل کار ته وسپارل شی اداری فساد له منځه لاړ شی ښوونه او انکشاف رامنځته شي. امنیت،ټ نګ شي او افغانستان په نړیوالو ټولنه کی دیو سرلوړی هیواد په نامه وپیژندل شی.

- پخوانی کابینی په وخت کی دتنظیم ،سمت،ژبي او نورو تمایلاتو او ارتباطاتو په اساس مقرری کړی شوی یا خویی په وزارتونو کی دغیر مسلکي او نورو نیمګړتیاوو درلودونکی مسوولین لیږي کولای نشول چی دیو وزیر په وړاندی یی انتقادونه راپورته کړی دی تاسو څه فکر کوی دغه نوی کابینه به بیا دغه نیمګړتیاوی حل کړای شی؟ چی په مسلکي توب، اهلیت،مدیریت او هیواد پالنه اتکا وکړی؟

مونږ وایو کار باید اهل کارته وسپارل شی که چا تحصیل کړی وی مسلکی وی پاك وی او دکوم تنظیم وی له چاسره په وزارت کی کاروکړی دا یی حق دی خو که وزارت تنظیمی شوی وی یاد یو قوم لپاره وی دوی بیا نشی کولای د هیواد ګټی په نظر کی وساتی او دمملکت لپاره موثر تمام شی مونږ د داسی یو ه شکل سره جدی مخالف یو وزیرانو څخه زمونږ تقاضا دا ده چی خپل وزارتونه داسی عیار کړی چی کار اهل او مسلکی اشخاصو ته هیواد پالو او دملی احساس درلودونکو خلکو ته وسپاری زمونږ له نظره هغه څوك چي هر قوم او سمت ته منسوب وی خو چی مسلك، اسلامی هویت، اوهلیت دکارولری حق لري چی کاروکړی.

راتلونکی د ځوانانو ده

متصدی : ناصر بشر

دښوونې او روزنې وزارت نوی پالیسی‌ته اړتیا لري



په تیرو جګړو کې چې بهرنیانو معلوم الحاله کړیو افغان هیواد کې دجګړو اوربل کړی و دټولو ژوند ورانوونکو جبران نه منونکو زیانونو په را اړولو سره یې زیات زموږ تعلیمی سیستم ته ټکانونه ورکړی دی چې موږ یې په هیواد کې د لاړمو کادرونو څخه بې برخې کړی یو.

دهیواد په اوسنیو شرایطو کې دبیا رغاونې دټولو خواوو ترڅنګ زیاته ضروری ده چې دخپل هیواد دتعلیم په برخه کې ارزښتناک ګامونه پورته شي.

زموږ په هیواد کې دنورو تعلیمی مرکزونو دجوړولو ترڅنګ یوه هم دکابل دښوونې او روزنې پوهنتون دی چې دشپږو پوهنځیو په درلودلو سره یې وکړای شول دهیواد د بچیانو دروزلو په خاطر راتلونکی مسلکی ښوونکی وروزی دغه پوهنتون کې دکابل ښار دپولیسو داکادمی ترڅنګ جوړ شوی دی په نومورې پوهنتون انجونې او هلکان دمسلکی زده کړو په یادولو سره دراتلونکی لپاره تیاری نیسي.

نومورې پوهنتون ته ورځم په بکس کې له خپلو کمرو او ټیپ سره دپوهنتون انګړ ته په داسې حال کې داخلیږم چې هیڅوک را ځخه د چیرته تللو او تالاشی پوښتنه نه کوی زړه کې وایم کاشکی یو چا تالاشی کولای هسې نه چې منګی هره ورځ نه ماتیږي.

دپښتو ځانګې دمشر محمد اقا شیرزاد په ملتیا دهغه پوهنتون دعلمی مرستیال دوکتور حضرت میر طوطاخیل دفتر ته ورځم. نومورې د مرکې په ترڅ کې دپوهنتون په هکله داسې وویل:

په هیواد کې هغه لومړنی مرکز چې دښوونکو دتربیې او تعلیم دنده یې په غاړه درلوده په ۱۲۹۳ کال کې په کابل کې جوړ شو چې دپنځم ټولګی فارغان به یې نیول له اتم نه به فارغیدل بیا یې وروسته له ۹ نه فارغان ورکول.

دغه مرکز دوه برخې درلودې یوه یې په پغمان کې وه او یوه یې په کابل کې وه هغه چې په پغمان کې وه هغې دابتدایې لپاره ښوونکی تربیه کول او هغه چې په کابل کې وه دمتوسطې او لیسې لپاره یې ښوونکی روزل. وروسته یې بیا له لسم صنف نه فارغان ورکول بالاخره دغه تعلیمی مرکز له مستعجل دارالمعلمین نه دولسم صنف پورې عالی دارلمعلمین پورې ارتقا وکړه البته په مختلفو دورو کې.

وروسته دغه مرکز داکادمی تربیه معلم په نامه وبدل شو. دلیسانس او ماستر په سویه یې فارغان ورکړی دی دغه تعلیمی مرکز ددا خل خدمت ښوونکو لپاره د روښان په نامه یو پوهنځی جوړ کړ په ۱۳۶۲ کال کې دغه تعلیمی مرکز دپیداګوژی دانستیتیوت په نامه شو له طالبانو وروسته په ۱۳۸۱ نومورې انستیتیوت دښوونې او روزنې په پوهنتون و نومول شو.

داکتر حضرت میر وایی چې موږ تر اوسه پنځه پوهنځی لرو د ژبو او ادبیانو پوهنځی، داجتماعی علومو پوهنځی دطبیعی علومو، دمسلکی تعلیماتو او دبدنی روزنې پوهنځی لرو او سږ کال مو دتعلیمی بیا رغاونې په دغه پړاو کې دهغو هیوادوالو لپاره چې کانې وی. نابینا وی.ذهنی او یابدنی معیوبین وی ددې لپاره چې دوی دټولنې او دیوې پوښتنې په خواب کې زیاته کړه :

کله چې پوهنتون جوړ شو موږ ۸۱ محصلین درلودل اوس ۴۳۶۰ محصلین لرو او کیدای شي چې دا شمیره سږ ۵۰۰۰ ته لوړه شي.

یوازې سږ کال مو ۱۲۰ فارغان ورکړی دی چې په تیرو څلورو کلونو کې مو ټول ۷۲۰ تنه فارغان ورکړی دی د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته معرفی شوی دی زیاتو یې معارف ته مراجعه کړی او کم یې نورو وزارتونو ته تللی دی.

علمی مرستیال طوطاخیل دخپلو محصلینو دجذب په هکله وایی: موږ فارغ شوی محصلین د لوړو زده کړو وزارت څخه د قوای بشری ریاست ته ورپیژنی هغوی یې دکار او ټولنیزو چارو وزارت ته ورپیژنی. هر څوک دمعارف وزارت لاړې موافقه وروړی او مقرریږي خو په دې برخه کې زیات فارغین له لاسه ورکوو کله چې معارف وزارت ورته ووایی چې په کابل ښار کې کمبود نه لرو نو له نورو وزارتونو څخه موافقه راوړی او اطرافو ته نه ځی.

همدغه سږ کال ۵۰ ۶۰ زرو پورې بالفعل کمبود لرې او زیاتره کمبود په اطرافو کې دی په ولسوالیو کې دی خو دلوړو زده دفارغینو ځای د ۱۲ پاسو معلمینو پواسطه ډک شوی دی نو دپوهنتون علمی مرستیال طوطاخیل ددغې ستونزې دحل په هکله وایی: د معارف وزارت دنوی پالیسی جوړولو ته اړتیا لرې چیرې چې ښوونځی نشته ښوونځی جوړ کړی دهغو ښوونکو لپاره چې مسلکی زده کړه نه لري دزده کړې زمینه برابره کړی او دوی باید داستخدام په پالیسی کې تغییر راولی کله چې لیسانس ورشی باید د ۱۲ پاس ځای ونیسی او هغه ۱۲ پاس هغه ځای ته ولیږی چې هلته بالکل معلم نشته.

نومورې په پوهنتون کې دخپل نصاب په هکله زیاته کړه چې موږ خپل نصاب کې مو بیا رغاونه کړی ده په مقرراتو مو تغییرات راوستل هغه لکچرنوټونه چې استاذانو به دیکته کول هغه موږه کتابونو او لکچرکتابونو باندې بدل کړی دی.

استاد یوازې لکچر ورکوی زموږ درسونه عملی جنبه لري موږ خپل سیستم دستاژ په دوره کې داسې برابر کړی دی چې زموږ محصلین په ښوونځیو کې ددرس ورکولو میتود زده کوی. دپوهنتون په دننه کې مو هم یو تجربوی ښوونځی جوړ کړی او زموږ محصلین په کې دعملی تدریس اصول زده کوی.

له مرکې څخه وروسته یو ټولګی ته ننوځم په هغه کې استاد درس ورکوی انجونې هم په زده کړه بوخت دی خو کله چې کمره وینی د استاذ په اجازه له ټولګی ووځی چې عکس یې وانه خستل شي هغوی وایی چې موږ ته کورنی دعکس اخیستلو اجازه نه راکوی.

موږ ۱۳۲۰۰۰ ښوونکی موجود دی فعلاً ۱۲۰۰۰۰ په شاو خوا کې غیر مسلکی کسان دی دا پاتې به یې دلوړو زده کړو څښتنان وی دښوونې او روزنې وزارت دمسوولینو له خولې کورنی د اوړو بار نه وی نو ددوی لپاره موږ نوی پوهنځی جوړ کړی دی او په دې هکله مو له جاپانی متخصصینو سره هم خبرې کړی.

داکتر حضرت طوطاخیل

مکاتب در جنوب کشور، ولایت های غزنی، وردگ و زابل همواره مورد حمله نیروهای مربوط به طالبان قرار می گیرد و گاهی هم مسئولان مجبور می شوند مکاتب را تعطیل کنند. تاکنون بیش از ده ها مکتب در ولایات مختلف کشور به آتش کشیده شده و چندین معلم کشته شده اند. این بچه ها می گویند روزانه مجبورند ساعتها پیاده راه بروند تا به مکاتبی که در مناطق امن تر قرار دارند برسند

من فرشته هستم من خیلی از رفتن به مکتب می ترسم و همچنین دلم برای دوستانم که مکتب را از ترس ترک کرده اند تنگ شده است. هر روز راه رفتن به مکتب را عوض می کنم وقتی جیزی و یا کسی مشکوکی را در راه می بینم گوش هایم را می بندم وقتی می بینم که اتفاقی بدی رخ نداده است، خوشحال می شوم. می خواهم خبرنگار شوم و همچنین آرزو دارم به پدرم کمک کنم



من محمد آصف هستم و در صنف اول درس می خوانم من از مین ها که آدمهای بد گذاشته اند خیلی می ترسم . دلم برای دوستانم که خانواده های شان نمی گذارند به مکتب بیایند تنگ شده است. کاش پول می داشتم و برای درس خواندن به کابل می رفتم. می خواهم برای ده خودم کار مفیدی انجام بدهم ما اینجا هیچ چیز نداریم



من محمد ناصر از ولایت ارزگان هستم و در صنف یازدهم درس می خوانم و همچنین در مکتب ابتدایی درس می دهم. طالبان تهدید کرده اند که همه کسانی را که به مکتب می آیند خواهند کشت. آنها حداقل به هفت مکتب حمله کرده اند همه معلمها فرار کرده اند من به آنها می گویم که وقتی مکتب ما را به آتش می کشند در حقیقت همه ما را با خانوده های ما به قتل می رسانند

یکی از کلاوه های سردرگم سیاسی...

نوشته عزیز آسوده مبصر اراده

در میان چندین تا از کلاوه هاي سردرگم سیاستهاي کشور ما، یکي هم مسئله مبارزه با کشت، ترویج وقاچاق مواد مخدره است، مسئله یي که در بیجوابی یک دور باطل سیر می کند. زیانها وضرر های که از این ((هیولای جهانخوار))، به کشور ما وارد میشود با همه کنکاش ها وسنجیدار ها در سطح بین الملل، هنوز در مقیاس ارزیابي ها ناگنجیده مانده وراه حل اساسی آن نه تنها در سطح کشور بلکه در سطح جهانی ناپیدا به نظر میرسد.

این بدان دلیل است که همه حتی همانهایی که خارج از مرز های ما در تالار بزرگ و درمجاورت دستگاه های انترنتی ومغز های الکترونیک سروکار دارند بازهم از دریافت این معما در تنگناه افتاده اند. چه میرسد به اداره دولتی خودمان که در میان چندین سنگ کلفت وزمخت خواسته وناخواسته آگاهانه وناآگاهانه گیر مانده وتا هنوز این کلاوه را لمس نکرده است.

فراتر از این میشود گفت که ما تاکنون سود وزیان این میراث ((مافیای بین المللی)) را که براي ما در همین یک دهه بیش چونان ((گلی)) شگفتانده اندو عطر ناهنجار آنرا در سراسر کشور ما پراگنده اند، به درستی شمرده ایم.

مسلماً اینرا هم هنوز ندانسته ایم وحتي باعصای سیاست هم درنیافته ایم که این کلاوه سردرگم سیاسی چقدر با کلاوه هاي دیگر وبی سر، بی امنیتی،جنگ، تروریزم فساد اداري ودموکراسی افسار گسیخته ونیزدخالتهای خارجی که زمینه ساز آن گردیده اند، پیوند های نا گسستنی دارند.

ودریغا که چقدر این سیاست شناسان وسیاستگذاران ما پیوند هاي این کلاوه های سردرگم را که بخشی از سیاست های دولتی ما بشمار می آیند، فراموش می کنند وآنرا به مغالطه مي گیرند. از کابل تا ژنیو ونیویارک وپاریس ولندن و واشنگتن ودهها قلمرو دیگر کنفرانس ها، میز گرد ها، جلسات برگذار میشوند وبیانیه ها واعلامیه ها وقطعنامه ها صادر میشوند، وهمین شعار دهن پرکن مبارزه با قاچاق مواد مخدره را پیوسته سرمیدهند وبه کشور بیچاره وبدبخت من (افغانستان) اشاره مي کنند که افغانستان بیش از نود درصد هیروئین جهان را تدارک مي کنند...))

روز نامه ها ومطبوعات نیز وطن مظلوم وجفادیده مرا انگشت نما میسازد که از انجا(یعنی از افغانستان) بیشترین مواد مخدره به بازار هاي اروپا وامریکا صادر میشود.

وطن ومردم ((محکوم)) وطن من که در این سیاستها وگردانندگی ان دخلي ندارند، به ناچار بایستی سر درگریبان خجلت فرو برند، وشکنجه این هیاهوی بازار های مکاره شرق وغرب را به جان پذیرا شوند. زیرا اگر مشتی دهقان وکشتکار از آن بهره یی می برند، اما این ((تف سربالا)) بر روی همه فرو می افتد وپیشانی همه را مرطوب میسازد، اما آنانیکه خود راه موش را به آسیا می دانند واز دور در این کردار ها وگرم کردن این بازار ها وبرپایی این هیاهو ها دستی دارند. چنان ماسکهای قلابی را برصورت کشیده اند وچنان برین غایله اشک تمساح میریزند که بي شباهت به خیمه شب بازی، تر دستان نیست.

از همین جهت تماشاگرانی از اینجا وآنجا وهرجای جهان این بازی مجانی وبدون تکت را هر روز تماشا می کنند. تماشا می کنند ومی بینند که در این شهر وآن روستا، کشتزار های به گل نشسته را چوب کاری می کنند، در شهر دیگر وروستای دیگر چند دستگاه کذایی را خردوخمیر وویران می کنند وبعد با تبختر دامن مطبوعات را با آن می آلایند و از زیر ریش مردم خر سوار می گذرند که گویا دستگاه های هروئین همه از بین رفت ویا چند آدمک را با چند خورد وچند مثقال ویگان کیلو به چنگ میاورند وبعد صدای قانون را که کژ آهنگ وبی قانون شده، به نوا در میاورند که گویا به اخر خط رسیده اند ودیگر گلیم هر چه قاچاق وقاچاقبر است برچیده شده است.

گاهي ارقام وآماري هم ارایه مي شود که این ارقام وامار به مرور وباگذشت زمان کاهش میپذیرد ودلایل آن سکوت باقي میماند.

در حالیکه چارسال از کار نظام سازی در کشور میگذرد. ما هنوز هزارویک وعده یی را به کاشت کاران داده ایم که به یکی هم جامه عمل نپوشیده ایم یگانه وعده یی را که در آغاز دوره موقت عملی کردیم وآن بخش کردن یکمقدار دالر بود که براي دهاقین اختصاص یافته بود. به دستهای دیگری که با پیشقدمی دراز دستی کرده بودند سپرده شد ودستهای کشتکاران ومدعیان کشت کوکنار خالی ماند.

ادامه دارد

په غزني کې یو سرتیری وژل شوی

تیره شپه دغزنی ولایت داندړو په ولسوالی کې یو دولتی. سرتیری دوسله والو کسانو له خوا وژل شوی دی. دنومورې ولایت امنیتی مسوولین وایی چې دغه سرتیری د شپې له پلوه دطالبانو لخوا دکور نه ایستل شوی او وژل شوی دی.

په سیمه کې یو پولیس چې داندړو ولسوالی اوسیدونکی دی ووایل چې دغه شو او سوداګر یې کس دشنبې په برخیرن تپې شپه ددوستانو له کړ.

کور څخه وایستل شو او وژل شوی دی. دغه راز پولیسو وایی چې وژونکې په تیښته بریالی شوی او دنیولو لپاره یې هڅې روانی دی.

دغه راز داندړ ولسوال حبیب الله جان وویل چې دوه ورځې مخکې ددغی ولسوالی دیو تن سوداګر دسپرلی موټر دنامعلومو کسانو لخوا تر راکتې برید لاندې ونیول شو او سوداګر یې برخلیږن تپې شپه ددوستانو له کړ.

حملات انتحاری ...

حملات انتحاری ومعمولی در در ماه های اخیر حملات انتحاری در افغانستان عراق پیروی افزایش یافته میکنند، ولایت است ومقامات بر قندهار وهلمند از این باور هستند مراکز اصلي نفوذ که حمله کنندگان طالبان بوده واز انتحاری در این مناطق اصلی فعال کشور از روش با آنان بشمار هاي تازه میرود.

قتل دهها تن ...

بمباران مواضع طالبان در ولایت کنر پس از آن صورت گرفت که سه پولیس افغان بر اثر انفجار بمبی که در کنار جاده‌ای در مرز پاکستان واقع در ولایت خوست کار گذاشته شده بود جان خود را از دست دادند و دو سرباز بریتانیایی و یک پولیس نیز در نزدیکی دروازه پایگاه نظامیان بریتانیایی در شهر لشگرگاه، مرکز ولایت هلمند طی حمله‌ای انتحاری زخمی شدند. این حملات به بازماندگان طالبان در کشور نسبت داده می شود

آقاي خالد مي گوید این عملیات که از شامگاه جمعه تا صبح شنبه ادامه یافت پس از آن طرحریزی شد که منابع اطلاعاتی از نقشه طالبان برای حمله به قندهار خبر دادند به گفته وی، عمده تلفات طالبان بر اثر بمباران مخفیگاه آنان در سنگسر بوده است همزمان طی عملیاتی دیگری در ولایت کنر در شرق کشور دست کم دو تن از افراد طالبان طی بمباران هواپیماهای اردوي آمریکا کشته شدند. این حمله هوایی بخشی از عملیاتی تحت عنوان شیر کوهستان برای سرکوب بازماندگان طالبان در شرق کشور است و دولت آن را بزرگترین عملیاتی می داند که از هنگام سقوط حکومت طالبان در خزان سال ۲۰۰۱ میلادی علیه این گروه تبادگرای اسلامی اجرا شده است

په خوست کی ...

خاخی میدان ولسوالی د ډیورنډ کرښې ته ورځیرمه ده او په هکله بې په سیمه کې ملی اردو قوماندان جنرال اکرم سیمع وایی چې دغه کسان پاکستانیان دی او ورسره بې یو شمیر اسناد هم نیولی دی.

خو هغه د اسنادو په هکله څه ونه ویل بل کسی یې د اسماعیل خیلو مندوخای په ولسوالی کې نیولی دی. د جنرال اکرم په خبره له دغې سړی سره دریموټ کنټرول بمونه او نور وسایل هم نیولی دی. که څه هم په دې سیمه کې افغان چارواکي وخت ناوخت دبمونو دشنډولو او دشکمنو طالبانو دتیولو خبرونه ورکوی خو تر څنګ یې مخالف بریدونه هم ډیر شوی دی. اوله امله یې پرون دري پولیس ووژل شول او دوه نور تپیان شوی خوپرونی چاودنې چې د خوست بنار لویدیز ته په لس کیلو متری کې وشوی څه زیان یې نه دی اړولی.

دکاپیسا په ولایت کې...

بناغلی مراد تکاب شك پرې کیده دشکمنو مجرمینو دغه عملیات چې له قاتلینو او طالبانو دریې ورځو راهیسې میشت ځای وبالله او دکاپیسا ولایت دتکاب زیاته کړه چې وخت په په ولسوالی کې پیل وخت له دغې سیمې شوی موخه یې امنیتی خنډونه را دشکمنو جنګیالیو او پورته کیږي نو ځکه وسله والو کسانو نیول یې دوی اړ کړل چې بندول شوی.

پوځی عملیات پیل روان عملیات چې کړی دکاپیسا والی دمعلوماتو اخیستل زیاته کړه چې په پوځی یوازې له دولتی عملیاتو کې کابو سرچینو څخه ممکن ۴۰۰ پولیس برخه لري دی په ترڅ کې یې له او ټولې هغه سیمې یې غټو او وړو وسلو څخه کلابندی کړی چې هم کار اخیستل شوی دجنګیالیو دموجودیت دی.

ERADA Daily

اراده

زیرنظر هیات تحریر انتشار مییابد

موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد

مدیر مسوول: سهراب دیدار

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد

آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)

تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان

اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است

کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"

چاپ: مطبعه مرکز نشراتی افغان

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center

Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)

eradadaily@hotmail.com

قیمت یك شماره ۳ افغانی